# مخدره مواد یانشه يي توکي

په ناروې کې، ماشومانو ته چې د 18 کلنۍ څخه کم عمر لري د بیر او واین سرویس او خرڅول په کلکه منع دی.
مخدره توکي هر هغه موادو ته ويل کيږي چې د تسکين ورکوونکو او تحریکوونکو کمیاوي عناصرو درلودونکي وي او دبیهوشی بیحسی سبب کیږی.

د الکول او تنباکو کارول منع نه دی لیکن الکول او تنباکو د روحی او جسمی ناوړو کړو (عواقب )سبب کيږي .

د مخدره موادو کارول منع د ی .د مخدره موادو ساتل، کارول او خرڅول جرم دی .که څوک مخدره مواد استعمال، قاچاق او خرڅ کي په حبس جزا محکومیږی. هر کال په زرگونو کسان د لکول، تنباکو او مخدره موادو استعمال له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوی .

د نشه يي توکو کارول د بدن حجرات زهرجن کوي او د دماغ او بدن د فعالیتونو د ګډوډۍ سبب کیږي.

## الکول

الکول هغه نشه يي مواد ده چې د څښلو په شکل د انسان وجود ته نه نوزي او د بيهوشی بیحسی کرختی او نورو ناوړو پیښو د رامنځته کیدو سبب ګرځي .الکول په یو کس ډیر او په یوکس لږ اغیزه کوي .یو تعداد کسانو د استعمال په وخت کې خوشحاله و یو تعداد کسان غمجن کیږی. الکول هغه نشه يي مواد ده چې د ګیډې او کولمو له طريقه وينې ته جزبيږي, چې مونږ يې په پروميل اندازه کولای شو .یو پروميل دا معنی لري چې په یو کیلوګرام وینه یوګرام الکول شتون لري. الکول د وينې په ذریعه ټول بدن ته تقسیمیږي. د بېلګه په ټوګه مغز ته .الکول ډیر ږر زمونږ په بدن کې سوزیږی (احتراق کوی) هغه مقدار الکول چې په بير کې تاسو څښئ تقریبآ په دووساعتو کې له بدن نه راوځي. دشرابو تر اغېز لاندې د موټر چلول منع دي.




Alkohol. Foto: Khan Noor

## چرس

په ناروې کې چرس یو معمولي مخدره مواد ده چې دا ټوکې له بوټو څخه ترلاسه کيږي .چرس د لوګي په توګه استعمالیږی، چې فکری تمرکز له منځه وړی .د چرس د استعمال په وخت کې د سرعت او مسافه تخمينول ډير مشکل کار دي او ډربوي ډير خطر لري. د چرس تر اغېز لاندې د موټر چلول منع دي.



Hasj.Foto:pxhere

## هيروين

هیروین هم د ترياک له مشتقاتو څخه دی چې له مورفين څخه جوړیږی .د هيروين استعمال د بېحسی سبب کیږی او استعمالونکي ځان خوشحاله احساسوي ،لوږې ،تږې درد او ورځنې اړتيا نه احساسوي.



Heroin. Foto: Pixabay

## مورفين

مورفين د ترياک یو مشتق دی چې د روږدې کېدو ناوړه اغېزې يې له ترياک څخه لس برابره زياتې دي. د ا مواد ددرد تسکين ټوخيدل لپاره او د مخدره مواد په توګه کارول کيږي.




*Morfin. Foto: Wikimedia*

## تریاک(اپن)

تریاک(اپن )د کوکنارو له بوټې څخه تر لاسه کیږی چې د هیروینو د جوړولو لپاره ګته اخیستل کیږی.



*Opium. Foto: Pxhere*

## تنباکو /نیکوتین

نیکوتین دتنباکو په پانو کې شته چې د سګرټ ،چلم او نصوارو په توګه استعمالیږي زیاتره د نفستنګی ناروغیو سبب کیږي. او د زړه د ناروغیو ځطرونه زیاتوي.



*Tobak. Foto: Khan Noor*

## Kilder:

John Harald Nomedal. Kosmos 9(elevbok, lettlest, samfunnsfag for ungdomstrinnet, geografi, historie, samfunnskunnskap).